Social Science AcademicJournal

لېډ د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د قرآن کريم او نبوي لارښوونو په رڼا کې د اوسنيو فتنو عوامل او حل لارې

**پوهنيار محمدساليم ثمين**

اسلامي تعليماتو څانګه، شرعياتو پوهنځی، هلمند پوهنتون، هلمند، افغانستان

د مسؤل بريښناليک : Salimsamin33@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۵/۰۳/۲۲ منل سوې:۱۴۰۵/۰۵/۰۳ خپره سوې: ۱۴۰۵/۰٦/۳۱ د ثبت ګڼه:LSSAJ-3-1-15 مخونه:۲۱۷-۲۳۳

**لنډيز**

دا څېړنه د قرآني هداياتو او نبوي لارښوونو پر بنسټ د فتنو څخه د ساتنې موضوع په علمي او تحليلي ډول څېړي، فتنه هغه پېچلې حالت دی، چې په کښې د حق او باطل تر منځ کرښه مبهمه سي او انسان له فکري او عملي انحراف سره مخ کړي، په اوسنی زمانه کې د ناسمو معلوماتو چټک خپرېدل، د ديني پوهاوي کمښت، د احساساتو بې کنټروله اغېز او د ټولنيزو رسنيو ناسم استعمال د فتنو د پراختيا مهم عوامل بلل کېږي، د دې موضوع ارزښت په دې کې دی چې د فتنو پر وړاندې د سم دريځ خپلول د فردي ايمان د ساتنې ترڅنګ د ټولنې فکري ثبات او يووالی هم تضمينوي، د څېړنې اساسي موخه داده چې د نبوي ارشاداتو په رڼا کې د فتنو پر مهال د مسلمان د چلند اصول، د حق پېژندنې معيارونه او د انحراف د مخنيوي اغېزمنې لارې چارې روښانه کړي، په دې څېړنه کې له تحليلي او تشريحي منهج څخه کار اخيستل سوی او د قرآني نصوصو او احاديثو پر بنسټ د علم ارزښت، تقوا، صبر، د جماعت التزام او له شبهاتو څخه د ځان ساتنې بنسټيز اصول څېړل سوي دي، پايله دا ده چې د ديني پوهې پياوړتيا، د نبوي لارښوونو عملي کول او له افراطي او بې بنسټه چلندونو څخه ځان ساتل هغه بنسټيز عوامل دي چې انسان د فتنو له منفي اغېزو څخه ژغوري او د اعتدال پر لاره يې ثابت ساتي.

**کليدي کلمې:** قرآني هدايات، نبوي لارښوونې، فتنې، لاملونه، ځان ساتنه، حل لارې.

# عوامل الفتن المعاصرة وحلولها في ضوء القرآن الكريم والتوجيهات النبوية

**الاستاذ المساعد احمد ساليم ثمين**

قسم الدراسات الإسلامية، كلية الشريعة، جامعة هلمند، هلمند، أفغانستان

Email: Salimsamin33@gmail.com

**الملخص**

تتناول هذه الدراسة موضوع الوقاية من الفتن في ضوء الهدايات القرآنية والتوجيهات النبوية دراسةً علميةً تحليليةً. والفتنة هي حالة معقدة تلتبس فيها الحدود بين الحق والباطل، مما قد يعرّض الإنسان للانحراف الفكري والعملي. وفي العصر الحاضر، يُعدّ الانتشار السريع للمعلومات غير الصحيحة، وضعف الوعي الديني، والتأثير غير المنضبط للعواطف، وسوء استخدام وسائل التواصل الاجتماعي من أهم العوامل التي تسهم في انتشار الفتن. وتكمن أهمية هذا الموضوع في أن اتخاذ الموقف الصحيح تجاه الفتن لا يسهم في حفظ إيمان الفرد فحسب، بل يعزز كذلك الاستقرار الفكري والوحدة في المجتمع.

وتهدف الدراسة أساساً إلى توضيح مبادئ سلوك المسلم أثناء الفتن، ومعايير التمييز بين الحق والباطل، والوسائل الفعّالة للوقاية من الانحراف، وذلك في ضوء الإرشادات النبوية. وقد اعتمدت الدراسة على المنهج التحليلي والمنهج الوصفي، وتم من خلال النصوص القرآنية والأحاديث النبوية دراسة المبادئ الأساسية المتمثلة في أهمية العلم، والتقوى، والصبر، والالتزام بالجماعة، والابتعاد عن الشبهات. وتوصلت الدراسة إلى أن تعزيز المعرفة الدينية، وتطبيق التوجيهات النبوية، والابتعاد عن السلوكيات المتطرفة وغير المستندة إلى أساس شرعي، من العوامل الأساسية التي تحمي الإنسان من الآثار السلبية للفتن، وتثبته على طريق الاعتدال.

**الكلمات المفتاحية:** الهدايات القرآنية؛ التوجيهات النبوية؛ الفتن؛ العوامل؛ الوقاية؛ الحلول

## سریزه

الحمد لله رب العالمين الذي لا أحصى نعمه، و لا أقدر على أداء شكره إلا بمعونته، والصلاة والسلام أولاً و آخراً على نبينا اشرف الانبياء و المرسلين محمد المبعوث رحمة للعالمين و على اله و أصحابه و أزواجه و ذرياته و أتباعه و سلم تسليما دائما كثيراً كثيرا.

وبعد: د فتنو د ماهیت پېژندنه او له هغو څخه د ځان ساتني لاري چاري زده کول د مسلمان د فکري او عملي ژوند له مهمو اړتیاوو څخه ګڼل کیږي، په معاصر وخت کي د فتنو ډولونه ډېر پراخ او پېچلي سوي دي، تر دې چي په بېلابېلو فکري، اخلاقي، ټولنیزو او رسنیزو شکلونو کي ځان څرګندوي، انسان په دې ډول شرایطو کي د ازموینې په داسي پړاو کي ژوند کوي چي په کښې پېښېدونکي حالات د الله تعالی د علم او حکمت له مخي تنظیم سوي دي، د څېړني اساسي موخه داده چي د نبوي ارشاداتو په رڼا کي د فتنو پر مهال د مسلمان د چلند اصول، د حق پېژندني معیارونه او د انحراف د مخنیوي اغېزمني لاري چاري روښانه کړي، له همدې امله مسلمان ته پکار ده چي د بې لارۍ او شکونو له خطرونو څخه د ځان ساتني لپاره د هدایت روښانه سرچینو ته مراجعه وکړي، د الله تعالی په کتاب کي د ژوند لپاره روښانه لارښود سته، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کي داسي عملي لارښووني نغښتي دي چي انسان ته بصیرت او پوهه ورکوي، که څوک دا سرچیني په سمه توګه وپېژني او عمل پرې وکړي، نو نه به د فکري ګډوډۍ ښکار کي بږي او نه به د ګمراهۍ لور ته منحرف کي بږي، بلکي په اعتدال او هدایت باندي به ثابت پاته کي بږي.

## د څېړني ارزښت

1. د نبوي لارښوونو زده کړه انسان ته د ستونزمنو حالاتو پر مهال د سم تصمیم نیولو توان ورکوي.
2. فتنې د انسان دعقیدې، فکر او عملي ژوند لپاره جدي ګواښ بلل کي بږي، نو دهغوی پېژندنه اومخنیوی ضروري دی.
3. د دې موضوع مطالعه مسلمان ته د حق او باطل تر منځ د توپیر وړتیا ورکوي.
4. دا څېړنه د بې لارۍ، شکونو او فکري ګډوډیو د مخنیوي لپاره مهم رول لري.
5. دا موضوع د فردي اصلاح ترڅنګ د ټولني فکري او اخلاقي ثبات ته وده ورکوي.

## د څېړني پوښتني

1) قرآن کریم او نبوي سنت د فتنو په وړاندي کومي لارښوونې وړاندي کوي؟
2) په معاصره ټولنه کي د فتنو د زیاتېدو اساسي عوامل کوم دي؟
3) د فتنو څخه د ځان ساتني عملي لاري چاري کومي دي؟

## د څېړني موخي

1) د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کي د فتنو په اړه اسلامي دریځ بیانول؛

2) په معاصره ټولنه کې د فتنو د خپرېدو اساسي عوامل او ستونزې روښانه کول؛

3) د قرآني هداياتو او نبوي لارښوونو په رڼا کې د فتنو د مخنیوي عملي لارې چارې وړاندې کول؛

## د څېړنې اړوند مخکنۍ لیکنې

زما څېړنې ته ورته ځینې نورې څېړنې هم په عربي ژبه کې ترسره شوې دي، چې د هغو د جملې څخه یوه هم د دوکتور عبد العزيز عبد الكريم میغا ده چې د (الفتنة في القرآن الكريم أنواعها وأسبابها وعلاجها) تر عنوان لاندې یې ترسره کړې ده.

دوهمه څېړنه د اسلام محمود درباله ده، چې د (النجاة من الفتن) تر عنوان لاندې تر سره شوې ده.

بله څېړنه هم د دکتور محمد أبكر محمد أرباب ده چې (وسائل التحصين من الفتن في ضوء السنة النبوية) تر عنوان لاندی لیکل شوې ده.

په پښتو ژبه کې تر اوسه داسې څېړنه نه ده تر سره شوې.

## مواد او کړنلاره

دا څېړنه د (د نبوي لارښوونو په رڼا کې د فتنو څخه د ساتنې لارې چارې) تر عنوان لاندې د تحلیلي او تشریحي منهج پر بنسټ ولاړه ده، په دې منهج کې لومړی د فتنې مفهوم د لغوي او اصطلاحي اړخه روښانه سوی، بیا د قرآن کریم د آیتونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو په رڼا کې د فتنو حقیقت، عوامل او د مخنوي لارې چارې یې تحلیل سوي دي، د معلوماتو د راټولولو لپاره له اصلي اسلامي سرچینو لکه قرآن کریم، نبوي احادیث او د علماوو له معتبرو تفسیري او حدیثي آثارو څخه استفاده سوې ده، د قرآن کریم ترجمه مې د کابلي تفسیر څخه کړې، د نبوي احادیثو ژباړه مې د احادیثو د مختلفو معتبرو شروحاتو څخه کړې ده.

## د څېړنې موندنې

### د فتنې پېژندنه

**لغوي تعریف:** فتنه په لغت کې د ازموینې او ازمېښت په معنی سره راځي لکه ابن منظور په خپل کتاب کې نقل کړې دي (جِماعُ مَعْنَى الفِتْنَة الابْتِلاَءُ والامْتِحانُ وَالِاخْتِبَارُ، وأَصلها مأْخوذ مِنْ قَوْلِكَ فَتَنْتُ الْفِضَّةَ وَالذَّهَبَ إِذا أَذبتهما بِالنَّارِ لِتُمَيِّزَ الرَّدِيءَ مِنَ الجيِّد).(لسان العرب، ج٦، ص٢١٧٥)

ژباړه: د فتنې عمومي معنا ازموینه، امتحان او ازمېښت دی، د دې کلمې اصل له دې خبرې څخه اخیستل سوی دی چې ته وایې(ما سپین زر او سره زر سره و ازمویل)، یعني کله چې هغه په اور کې وېلې کړې تر څو خراب له ښه څخه بېل کړې.

**اصطلاحي تعریف:** امام جرجاني رحمه الله په خپل کتاب کې د فتنې تعریف داسې لیکي:

(ما يتبين به حال الإنسان من الخير والشر) (التعريفات للجرجاني، ص١٦٥).

ژباړه: هغه څه چې د انسان حالت د خیر او شر له پلوه څرګندوي.

همدارنګه المناوي رحمه الله د فتنې تعريف داسې کړی دی( البلية، وهي معاملة تظهر الأمور الباطنة)( التوقيف على مهمات التعاريف، ص۲۵٦).

ژباړه: يعني آزمايښت ده، او مطلب يې دا دی چې دا داسې حالت وي چې د انسان پټ حالات ښکاره کوي.

يعني فتنه هغه وسيله ده چې د انسان د دروني(داخلي) خير او شر، صداقت او کمزورۍ حقيقت ښکاره کوي.

**د فتنو د پيښېدلو اسباب**

د فتنو له مهمو لاملونو څخه يو ستر لامل د شيطان پيروي ده، قرآن کريم ښيې چې د آدم عليه السلام د اولادې او شيطان ترمنځ پخوانۍ دښمني د خلقت له پيله موجوده وه، د انسان لومړۍ ازموينه هم هغه وخت وه چې آدم عليه السلام او حوا انا په جنت کې د شيطان په وسوسه اخته سول، او په پايله کې له جنته راووته او ځمکي ته راکښته سول، نو ځکه قرآن کريم د آدم عليه السلام اولادې ته خبرداری ورکوي چې بيا د شيطان په دوکو او وسوسو ونه غولېږي او د هغه په لار ولاړ نه سي.

قرآن کريم د فتنې لأملونه په ډېر روښانه ډول بيان کړي دي، او همدارنګه يې د هغې بېلابېل ځايونه يې د ګڼو آيتونو له لاري څرګند کړي دي، له دې لأملونو څخه ځيني دا دي:

**لومړی: د شيطان پيروي**

قرآن کريم انسان ته د شيطان له پيروۍ او د هغه د لاري د تعقيب څخه کلک خبرداری ورکړی دی، او بيانوي چې د هغه د پيروۍ پايله تباهي، تاوان او سخت زيان دی، او انسان په لوی شر او سترې ګمراهۍ کي اچوي، لکه الله تعالی په خپل کتاب فرمائي:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ﴾ (سورة البقرة، آيت۲۰۸).

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو) ننوځی په اسلام کې ( د هغه له ټولو شرايط سره) ټول او مه کوی پيروي د (اثر) د قدمو د شيطان بيشکه دا (شيطان) تاسي لره دښمن دی ښکاره.

همدارنګه بل آيت کريمه کي الله جل جلاله فرمائي:

﴿وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُبِينًا﴾(سورة النساء، آيت ۱۱۹).

ژباړه: او هر څوک چې و نيسي شيطان دوست بيله الله تعالی نو په تحقيق سره يې زيان وکړ زيان ښکاره.

امام رازي رحمه الله په خپل تفسير کي ددې آيت کريمه په شرحه کي ليکي: (وَلَكِنَّ الْمَعْنَى أَنَّهُ إِذَا فَعَلَ مَا أَمَرَهُ الشَّيْطَانُ بِهِ وَتَرَكَ مَا أَمَرَهُ الرَّحْمَنُ بِهِ صَارَ كَأَنَّهُ اتَّخَذَ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا لِنَفْسِهِ وَتَرَكَ وِلَايَةَ اللَّهِ تَعَالَى)(التفسير الكبير، ج۱۱، ص۲۲۴).

ژباړه: مطلب دا دی چې کله یو انسان هغه کارونه وکړي چې شیطان يې ورته امر کوي، او هغه څه پرېږدي چې رحمن جل جلاله پرېږ امر کړی وي، نو داسې بلل کې ږي لکه شیطان چې يې خپل دوست او سرپرست نیولی وي او د الله تعالی ولایت يې پرې ایښی وي.

بل ځای الله تعالی په قرآن کريم کې فرمائي:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾(سورة النور، آيت ۲۱)

ژباړه: اې هغو کسانو چه ایمان يې راوړی دی( یعني اې مؤمنانو) متابعت مه کوی د ګامونو د شیطان؛ او هر چا چې متابعت وکړی د ګامونو د شیطان نو بېشکه دغه شیطان امر کوي(تابع خپل ته) په بې حیايی او بدو خبرو).

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کې ددې آيت کريمه په شرحه کې ليکي(يَعْنِي مَسَالِكَهُ وَمَذَاهِبَهُ، الْمَعْنَى: لَا تَسْلُكُوا الطَّرِيقَ الَّذِي يَدْعُوكُمْ إِلَيْهَا الشَّيْطَانُ)( الجامع لأحكام القرآن، ج۱۲، ص۲۰۶).

ژباړه: یعني د شیطان لارې او طريقې، مطلب دا دی چې هغه لاره مه تعقيبوئ چې شيطان تاسو ورته رابولي.

دا ټول آيتونه او نور ورته نصوص دا څرګندوي چې د شيطان پيروان او د هغه په لاره روان کسان د شيطان د اطاعت او د هغه د وسوسو په منلو سره کوم حالت ته رسېدلي دي، د شيطان پيروي د فتنې یو له تر ټولو سختو او خطرناکو لاملونو څخه ده چې انسان ګمراهۍ او فتنو ته بيايي.

**دوهم: ګناهونه**

د شيطان پيروي يو عام او اصلي سبب دی یعني انسان د شيطان وسوسې مني او د هغه لار تعقيبوي ګناهونه د همدې پيروۍ نتيجه او عملي بڼه ده، یعني د شيطان د پيروۍ په سبب انسان ګناه کوي ګناهونه او بد کارونه د دې لوی لامل دي چې په امتونو او خلکو کې فتنې، ګډوډۍ او بېلابېلې ستونزې رامنځته کړي، د انسانانو او ټولنو د حالاتو خرابوالی، او هغه ذلت او سپکاوی چې نن سبا اسلامي امت ورسره مخ دی، دا ټول د خلکو د خپلو کړنو پايله ده.

لکه الله جل جلاله په قرآن کريم کې فرمائي:

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾. (سورة الروم، آيت ۴۱).

ژباړه: ظاهر سو(آثار د) فساد په بر او بحر (په وچه او لنده)کې په سبب د هغې(ګناه او شرک) چه کړې دي لاسونو د خلکو د پاره ددې چه و څکوي (الله تعالی) دوی ته څه (سزا) د هغو (عملونو) چه کړي دي دوی د پاره ددې چه واوړي دوی ( له دغو بدیو څخه).

امام زمخشري رحمه الله د همدې آيت کريمه د تفسير اړوند ليکلي دي:( الفساد في البر والبحر نحو: الجدب، والقحط، وقلة الريع في الزراعات والربح في التجارات، ووقوع الموتان في الناس والدواب،

وکثر الحرق والغرق، وإخفاق الصيادين والغاصة، ومحق البركات من كل شيء، وقلة المنافع في الجملة وكثرة المضارّ).( الكشاف، ج٥، ص٢٥٩).

ژباړه: په وچه او سمندر کې فساد لکه: وچکالي، قحطي، د کرنې د حاصلاتو کموالی، په سوداګرۍ کې د ګټې کمېدل، د خلکو او څارویو ترمنځ د مړینو زیاتوالی، د اورلګېدنو او ډوبېدو پېښو ډېروالی، د کب نیوونکو او غوټه وهونکو ناکامي، له هر څه څخه د برکتونو له منځه تلل، په ټوله کې د ګټو او منفعتونو کمېدل او د زیانونو او آفتونو زیاتېدل.

**دریم: د جهاد پرېښودل**

بل سبب د فتنو د پېښېدو دادی چې خلك د دنیا په شهوتونو او خوندونو بوخت سي او جهاد پرېږدي، چې دا کار د فتنو سبب ګرځي، اسلامي امت هغه وخت عزت او برلاسي درلوده چې په اخلاص یې دین خپراوه او جهاد یې کاوه، خو کله چې یې دا لار پرېښوده، نو کمزوری سو، د دښمنانو تر حملو لاندې راغی او په ټوټو وویشل سو.

نبي علیه السلام په حدیث مبارك کې فرمائي: ( عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ). (سنن أبي داود، ج٣، ص٢٧٤).

ژباړه: د ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې ویې ویل: کله چې تاسو د (عینیې)[1] بیع وکړی، او یا هم کرنې او زراعت ته لومړیتوب ورکړی، او جهاد پرېږدی، نو الله تعالی به تاسو ته یو ډول ذلت در واچوي تر هغو پورې به له تاسو څخه نه ځي ترڅو چې تاسو خپل دین ته بېرته راستانه سوي نه یاست.

**څلورم: د مال فتنه**

مال د فتنو له مهمو سببونو څخه دی، ځکه انسان یې ډېر غواړي او د قدرت وسیله یې بولي، خو که د مال سره زیات محبت وسي، نو انسان د الله جل جلاله له اطاعت څخه غافل کې رېي او ګناهونو ته یې مخه کیږي، په دې توګه مال د انسان لپاره د فتنې او تباهۍ سبب ګرځي.

په قرآن کریم کې قارون د هغه چا مثال دی چې د ډېر مال له امله په فتنه کې ولوېدی الله جل جلاله په قرآن کریم دده اړوند فرمائي:

﴿ قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَى عِلْمٍ عِنْدِي أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا وَلَا يُسْأَلُ عَنْ ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ﴾( سورة القصص، آیت ٧٨).

[1] بیع العینة هغې بیعې ته ویل کیږي چې یو څوك له بل سړي څخه یوه شی (سلعه) په ټاکلي قیمت او معیّن اجل (موده) واخلي، بیا وروسته همدغه شی له هغه څخه نقدا د هغه قیمت څخه په ټیټ قیمت بېرته خرڅ کړي.( د سنن أبي داود شرح، عبد المحسن بن حمد بن عبد المحسن بن عبد الله بن حمد العباد البدر).

ژباړه: وویل (قارون قوم خپل ته ) بېشکه همدا خبره ده چه را کړل سوی دیماته دغه اموال په هغه عمل چي زما سره دی، آیا نه پوهېدی(قارون) چه بېشکه الله تعالی په تحقیق سره هلاک کړي دي په خوا له دغه (قارون څخه) له زمانو، هر هغه څوک چه دی ډېر سخت و له دې( قارون) څخه له جهته د قوت او ډېر وو له جهته د جمع کولو( د مال یا ملاتړ)، او و به نه پوښتل سي له ګناهونو خپلو څخه ګناه ګاران(ځکه چه الله تعالی ته معلوم دي).

ابن کثیر رحمه الله د همدې آیت په تفسیر کي ليکي: (وَلِهَذَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى رَادًّا عَلَيْهِ فِيمَا ادَّعَاهُ مِنَ اعْتِنَاءِ اللَّهِ بِهِ فِيمَا أَعْطَاهُ مِنَ الْمَالِ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعاً أَيْ قَدْ كَانَ مَنْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْهُ مَالاً، وَمَا كَانَ ذَلِكَ عَنْ مَحَبَّةٍ مِنَّا لَهُ، وَقَدْ أَهْلَكَهُمُ اللَّهُ مَعَ ذَلِكَ بكفرهم وعدم شكرهم). ( تفسیر القرآن العظیم، ج٦، ص٢٢٩.)

ژباړه: او د همدې لپاره الله تعالی د هغه د دعوې په رد کي وفرمای چي ګواکي الله تعالی هغه ته د مال په ورکړه ځانګړې پاملرنه کړې ده، ایا هغه نه پوهېږي چي الله تعالی دده څخه مخکي داسي قومونه هلاک کړي دي چي دده څخه ډېر قوي او ډېر مال راټولوونکي وو؟ یعني داسي خلک هم تېر سوي دي چي دده څخه يې زیات مال درلود، خو دا د دې معنا نه لري چي موږ ورسره مينه درلوده، سره له دې، الله تعالی هغوی د خپل کفر او د نعمتونو د ناشکری له امله هلاک کړل.

بل آیت کریمه کي الله جل جلاله فرمائي: ﴿ وَاعْلَمُوا أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ﴾ (سورة الانفال، آیت ۲۸).

ژباړه: او پوه سی تاسي چه بېشکه مالونه ستاسي او اولادونه ستاسي ابتلاء(ازموینه) ده او بېشکه الله تعالی په نزد دده اجر ( ثواب) ډیر لوی دی.

ابن کثیر رحمه الله د همدې آیت کریمه په تفسیر کي ليکي: أي اختبار وامتحان منه لكم إذ أعطاكموها ليعلم أتشكرونه عليها وتطيعونه فيها أو تشتغلون بها عنه وتعتاضون بها منه.( تفسیر القرآن العظیم، ج۴، ص۳۷).

ژباړه: یعني دا (مال او نعمتونه) ستاسو لپاره د الله له لوري ازموينه او امتحان دی، کله چي يې درکړي، تر څو معلومه سي چي ايا تاسي پرې شکر باسی او د هغه اطاعت پکښې کوی او که په دې شیانو بوخت سی او له الله تعالی څخه غافل سی او دا د هغه پر ځای ونیسی.

**پنځم: ابتلاء او ازموينه**

دلته فتنه د ګمراهی او انحراف په معنا ده، نه د ازموینې په معنا، ابتلاء او ازموينه د فتنو له مهمو سببونو څخه ده، الله جل جلاله خپل بندګان په بېلابېلو حالاتو کي ازمويي، په دې ازموينو سره انسان له ګناهونو پاکي بږي، درجه يې لوړېږي، او د حق پر لاره ټينګ پاته کي بږي، نو دا ازموينې که څه هم سختي لري خو په پای کي د انسان د اصلاح او کمال سبب ګرځي، ایمان یوازې په ويلو نه ثابتېږي، بلکي ازموينې ته اړتیا لري، انسان د ابتلاء له لاري ازمويل کي بږي تر څو صبر وکړي، ټينګ پاته سي او له ازموينې

څخه پاک او خالص راووزي، لکه څنگه چې زر په اور کې تصفیه کې ږي د انسان ایمان په ابتلاء او ازموینه معلومیږي.

الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمائي: ﴿ يَابَنِي آدَمَ لاَ يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ ﴾ (سورة الاعراف، آیت۲۷).

ژباړه: ای زامنو د آدم فریب دې در نه کړي تاسي ته شیطان لکه چه ایستلی یې دی مور او پلار ستاسې له جنت څخه(په فریب سره).

امام بیضاوي رحمه الله په خپله تفسیر کې ددې آیت کریمه په شرح کې لیکي: (والنهي في اللفظ للشيطان، والمعنى نهيهم عن اتباعه والافتتان به)( أنوار التنزيل وأسرار التأويل، ج۳، ص ۱۰).

ژباړه: په ظاهر کې خطاب شیطان ته دی، خو مقصد دا دی چې انسانان د شیطان له پیروۍ او د هغه په دوکه او فتنه کې له لوېدو څخه منع سي.

**د فتنو څخه د ځان ساتلو لارې چارې**

فتنې د انسان د ایمان او اخلاقو د کمزورتیا او د ټولنې د گډوډۍ له مهمو عواملو څخه شمېرل کې ږي، له همدې امله د هغو څخه ځان ساتل یو ضروري او بنسټیز امر دی، اسلامي لارښوونې موږ ته داسې اصول او وسایل راښیي چې د انسان ایمان پیاوړی کوي، هغه له انحراف او گناه څخه ژغوري، او د حق په لاره کې یې ثابت قدمه ساتي، په دې برخه کې به هغه لارې چارې وښودل سي چې د فتنو د درملنې او له هغوی څخه د ځان ساتنې لپاره کارېږي.

**لومړی: په قرآن کریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو ټینگې منگولې لگول او عمل په کول**

الله تعالی مؤمنانو ته امر کړی چې پر قرآن کریم او نبوي سنتو باندې ټینگ پاته سی او له تفرقې او اختلاف څخه ځان وساتی، په قرآن کریم او نبوي سنتو کلکې منگولې لگول په ټولو حالاتو کې د بریا او هدایت لاره ده، په ځانگړې ډول د فتنو او ستونزو په وخت کې.

الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمائي: ﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُوا ﴾ (سورة آل عمران، آیت ۱۰۳).

ژباړه: او منگولې ولگوی ( ای مؤمنانو ) تاسې په رسۍ( چې قرآن دی) ټول او مه سره مختلف کیږی( ورسته له اسلامه).

**دوهم: د الله تعالی په لاره کې مالي لگښت کول**

انفاق د انسان ایمان او تقوا پیاوړي کوي، د دنیا له محبت څخه یې ساتي او د الله تعالی د رضا سبب گرځي، له همدې امله انسان د فتنو پر مهال پر حق ثابت پاتې کې ږي، د الله جل جلاله په لاره کې مالي لگښت یوازې د آخرت لپاره نه دی، بلکې په دنیا کې هم د برکت، شتمنۍ او له فقره څخه د ساتنې سبب گرځي، او گټه یې انسان ته په دنیا او اخرت کې رسیږي.

الله جل جلاله په قرآن کريم کي فرمائي: ﴿وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنْفُسِكُمْ وَمَا تُنْفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ﴾ (سورة البقرة، آيت۲۷۲).

ژباړه: او هر هغه شی چی صرفوی يې تاسي له خيره (له مال نه) پس له پاره د نفسونو (ځانونو) ستاسي دی؛ او نه صرفوی تاسي (ای مؤمنانو!) منګر (صرفوی يې) خاص له پاره د طلب د رضا د الله تعای؛ او هر هغه شی چه صرفوی يې تاسي له خيره (له مال نه) نو پوره به درکړل سي تاسي ته (ثواب د هغه) او په تاسي به ظلم و نه کړل سي (د ثواب په کموالي سره).

د تفسير خازن مصنف رحمه الله د همدې آيت کريمه په تفسير کي ليکي: (وما تنفقوا من خير (أي من مال) فلأنفسكم (أي ما تفعلوا تنفعوا به أنفسكم) (لباب التأويل في معاني التنزيل، ج۱، ص۲۹۴).

ژباړه: او هر څه چي له خير (يعني مال) څخه مصرفوی، (نو دا ستاسو د ځان لپاره دي) يعني هر ښه کار چي کوي، ګټه يې بېرته تاسو ته رسيږي.

**دريم: پر الله تعالی باندي توکل کول**

توکل پر الله تعالی د ايمان مهم اصل دی، چي انسان په ټولو چارو کي پر الله جل جلاله اعتماد کوي او هغه ته پناه وړي، په ځانګړي ډول د فتنو او سختو حالاتو په وخت کي، توکل انسان ته ثبات او ارامي ورکوي.

الله جل جلاله په قرآن کريم کي فرمائي: ﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾ (سورة الطلاق، آيت ۳).

ژباړه: او هغه څوک چه توکل و کړي په الله تعالی باندي نو دغه(الله تعالی) بس کافي دي ده لره (په دواړو جهانو کي).

د پورته آيت کريمه په تفسير کي امام زحيلي رحمه الله فرمائي: (وإذا كان الرزق وغيره من الأشياء لا يكون إلا بتقدير الله تعالى، ولا يقع إلا على وفق علمه، فليس للعاقل إلا التسليم للقدر) (التفسير المنير، ج۲۸، ص۲۷۲).

ژباړه: کله چي روزي او نور څه د الله تعالی له تقديره پرته سرته نه رسيږي، او يوازي د الله تعالی د علم او ارادې سره سم رامنځته کي ږي، نو عاقل انسان ته دا پکار ده چي د الله جل جلاله پر تقدير تسليم سي.

**څلورم: د فتنو په وخت کي د ژبي ساتنه**

پر هر انسان لازمه ده چي خپله ژبه له باطلو خبرو وساتي، په ځانګړي ډول د فتنو او سختو حالاتو په وخت کي، ځکه په دغو وختونو کی اوازې، مبالغې او ناسمې خبري ډېرېږي، چي د همدې ډول خبرو په اساس انسان په فتنه کي واقع کيږي.

الله تعالي په قرآن کريم کي فرمائي: ﴿وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوًّا مُبِينًا﴾ (سورة الاسراء، آيت۵۳).

ژباړه: او و( ای محمده) (مومنانو) بنده ګانو زما ته چه وائي دي چه هغه ډیر غوره دی؛ بېشکه چه شیطان دښمني اچوي (او شر پورته کوي) په منځ د دوی کښې؛ بېشکه چه شیطان دی د پاره د انسان دښمن ښکاره( چه د سره یې نیکي نه وربانديي لوریږي).

ابن کثیر رحمه الله د همدې آیت کریمه په تفسیر کې لیکي: (يأمر تبارك وتعالى عبده ورسوله صلى الله عليه وسلم أن يأمر عباد الله المؤمنين أن يقولوا في مخاطبتهم ومحاوراتهم الكلام الأحسن والكلمة الطيبة، فإنهم إن لم يفعلوا ذلك، نزع الشيطان بينهم، وأخرج الكلام إلى الفعال، وأوقع الشر والمخاصمة والمقاتلة)( تفسير القرآن العظيم، ج٥، ص ٨٠).

ژباړه: الله تعالی مؤمنانو ته امر کوي چې په خپلو خبرو کې نیک او نرم الفاظ وکاروي، ځکه که دوی داسي ونه کړي، نو شیطان به د دوی ترمنځ فساد او شخړه راولاړه کړي، خبري به تر عملونو ورسوي، او بدی، دښمنی او جګړې به پېښې کړي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث مبارک کې فرمائي:(عن عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ حَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ ذَكَرَ الْفِتْنَةَ، فَقَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ النَّاسَ قَدْ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ، وَخَفَّتْ أَمَانَاتُهُمْ، وكَانُوا هَكَذَا» وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ، قَالَ: فَقُمْتُ إِلَيْهِ، فَقُلْتُ: كَيْفَ أَفْعَلُ عِنْدَ ذَلِكَ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ؟ قَالَ: «الْزَمْ بَيْتَكَ، وَامْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَخُذْ بِمَا تَعْرِفُ، وَدَعْ مَا تُنْكِرُ، وَعَلَيْكَ بِأَمْرِ خَاصَّةِ نَفْسِكَ، وَدَعْ عَنْكَ أَمْرَ الْعَامَّةِ»)(سنن أبي داود، ج٤، ص١٢٨).

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص څخه روایت دی چې موږ د نبي علیه السلام شاوخوا ناست وو، نو هغه د فتنو یادونه وکړه او ویې فرمایل: کله چې تاسو ووینئ چې د خلکو عهدونه او ژمني ګډې وډې سوي وي، امانتونه سپک وګڼل سي او خلک سره ګډوډ سوي وي ـ او خپلي ګوتي یې یو له بل سره یو په بل کې داخلي کړلي یعني تشبیک یې وکړی ـ نو ما وویل: یا رسول الله! په هغه وخت کې څه وکړم؟ علیه السلام وفرمایل: په خپل کور کې اوسه، خپله ژبه وساته، کوم حق او ښه چې پېژنې هغه خپل کړه، او کوم بد او ناسم چې ګڼې هغه پرېږده، د خپل ځان د اصلاح فکر کوه او د خلکو په چارو کې مه ګډېږه.

همدارنګه بل حدیث کی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي: (مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ)( صحيح البخاري،ج٨، ص ١٠٠).

ژباړه: هر څوک چې په الله جل جلاله او د آخرت په ورځ ایمان لري، نو یا دي ښه خبره وکړي او یا دي چپ پاته سي.

امام النووي رحمه الله په خپل کتاب کې د ژبي د ساتني اړوند لیکلي دي( اعلم أنه لكلّ مكلّف أن يحفظَ لسانَه عن جميع الكلام إلا كلاماً تظهرُ المصلحة فيه، ومتى استوى الكلامُ وتركُه في المصلحة، فالسنّة الإمساك عنه، لأنه قد ينجرّ الكلام المباح إلى حرام أو مكروه، بل هذا كثير أو غالب في العادة، والسلامة لا يعدلها شئ)(الأذكار، ص ٣٣٢).

ژباړه: هر مسلمان ته پکار ده چي خپله ژبه وساتي او پوازي د فایدې خبري وکړي، که د خبرو او چپ پاته کي دلو ګته یو ډول وي، نو چپ پاته کي دل بهتر دي، ځکه بې ځایه خبري انسان بدو او حرامو خبرو ته بیايي.

**پنځم: په صبر او لمانځه سره مرسته غوښتل**

صبر هغه مهم اخلاقي صفت دی چي انسان د فتنو، ستونزو او ازموینو پر مهال ثابت قدمه ساتي، د صبر په وسیله انسان کولی سي له سختیو سره مقابله وکړي او خپل ایمان او شخصیت خوندي وساتي، ځکه چي د دنیا ژوند د امتحان او بدلون ځای دی، نو انسان تل له ډول ډول حالاتو سره مخامخېږي؛ کله بریا او اسانتیا وي او کله ستونزي او کړاوونه، په همدې شرایطو کي صبر د بریالیتوب، استقامت او د الهي مرستي د ترلاسه کولو اساسي لاره ګڼل کي دي.

الله جل جلاله په قرآن کریم کي فرمائي: ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ﴾(سورة البقرة، آیت ۱۵۵).

ژباړه: او خامخا موږ ازمویو هرومرو تاسي په یوه شي چي هغه عبارت دی ( ددښمن ) له وېري او له لوږي( قحط ) او له کموالي د مالونو (په راز راز افتونو سره) او د نفسونو ( په قتل، موت، مرض او نورو ) او د مېوو( په آسماني او ځمکني آفتونو سره).

بل آیت کریمه کي الله جل جلاله فرمائي: ﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنْكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ ﴾ (سورة محمد، آیت ۳۱).

ژباړه: خامخا هرو مرو مو ازمویو تاسي( په جهاد او نورو تکالیفو سره) تر هغه پوري چي ظاهر کړو موږ جنګ کوونکي له تاسي څخه او صبر کوونکي ( په جهاد او په نورو احکامو او تکالیفو د اسلام کي) او ازمویو موږ عملونه، حالونه او خبرو نه ستاسي( د ایمان چي آیا رښتیا ده که درواغ).

نبي علیه السلام به خپل اهل او کورنۍ د فتنو د مخنیوي او له هغو څخه د ځان ساتني لپاره لمانځه ته هڅول، لکه حدیث مبارک کي راځي: ( أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً فَزِعًا، يَقُولُ: «سُبْحَانَ اللَّهِ، مَاذَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ الخَزَائِنِ، وَمَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الفِتَنِ، مَنْ يُوقِظُ صَوَاحِبَ الحُجُرَاتِ - يُرِيدُ أَزْوَاجَهُ لِكَيْ يُصَلِّينَ -)(صحیح البخاري، ج۹،ص۴۹).

ژباړه: حضرت ام سلمه رضي الله عنها وایي: رسول الله یوه شپه ناڅاپه له خوبه ویښ سو، په داسي حال کي چي وارخطا و، او ویل یې: سبحان الله! الله تعالی له خزانو څه نازل کړل، او له فتنو څه نازل کړل، څوک دی چي د حجرو (د خونو) ښځي راویښې کړي؟ (یعني خپلي مېرمني یې مراد وې)، تر څو هغوی لمونځ وکړي.

**شپږم: د خبرونو په نقلولو کي دقت کول**

په اسلام کي د خبرونو د نقل او خپرولو پر مهال د حقیقت پلټنه یو مهم اصل دی، دا کار د درواغو، افواهاتو او ناسمو معلوماتو د خپرېدو مخنیوی کوي او په ټولنه کي د باور، عدالت او یووالي د پیاوړتیا

لامل گرځي، همدارنگه د خبرونو په اړه تثبت او تحقیق د فتنو، شخړو او ناسم تفاهم د کمولو او له منځه وړلو لپاره اغېزمن رول لري، ځکه ډېري فتنې د ناسم خبر، اوازې او بې‌بنسټه معلوماتو له امله رامنځته کي ږي، له همدې امله مسلمان باید د هر خبر له خپرولو مخکي د هغه د صحت او اعتبار په اړه ډاډ ترلاسه کړي، ترڅو د ټولني امن، یووالی او ثبات خوندي پاته سي.

له فتنو څخه د ساتلو یوه مهمه وسیله دا ده چي د هر خبر له منلو او خپرولو مخکي د هغه په اړه پلټنه او ډاډ ترلاسه کړل سي، ځکه الله تعالی د خبرونو په اړه د تحقیق او تثبت امر کړی دی او فرمائي: ﴿یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِنْ جَاءَکُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَیَّنُوا أَنْ تُصِیبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَی مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِینَ﴾ (سورة الحجرات، آیت٦).

ژباړه: ای هغو کسانو چي تاسو ایمان راوړی، که چیرته راتگ وکړي تاسو لره فاسق او بد کار په یوه خبره سره، نو تاسو ښه تحقیقی په کښې وکړی، لجهته د ویري ددې وبه رسوي تاسو یوه قوم لره ضرر او تاوان په ناپوهی سره.

ابن کثیر رحمه الله د دې آیت په تفسیر کي لیکي: (یأمر تعالی بالتثبت في خبر الفاسق لیحتاط له لئلا یحکم بقوله، فیکون في نفس الأمر کاذبا أو مخطئا، فیکون الحاکم بقوله قد اقتفی وراءه) (تفسیر ابن کثیر، ج٧، ص٣٤٥).

ژباړه: الله تعالی امر کوي چي د فاسق او بې باوره کس د خبر په اړه باید تحقیق وسي، ترڅو د هغه د خبري پر بنسټ بیله پلټني پرېکړه ونه کړل سي، ځکه کي دای سي هغه په حقیقت کي درواغجن یا تېروتلی وي، او څوک چي د هغه پر خبره بېله تحقیقه عمل وکړي، نو د هغه پر لاره به تللی وي.

اسلام د فاسق او غیر باوري کس د خبر د منلو مخکي د تحقیق امر کوي، ترڅو د درواغو او تېروتنو له امله ناسمي پرېکړي او فتنې رامنځته نه سي.

د شخړو او فتنو پر مهال د هر خبر په اړه احتیاط او کره څېړنه ډېره مهمه ده، ځکه په دې وختونو کي اوازې او ناسم معلومات ژر خپرېږي او کولی سي خلکو او ټولني ته لوی زیان ورسوي، له همدې امله باید هر خبر له باور کولو او خپرولو مخکي وڅېړل سي.

**اووم: د مسلمانانو د جماعت او مشر(آمر) متابعت کول او ورسره پاته کي دل**

د فتنو او گډوډیو پر مهال، د اسلامي شریعت پابندي مسلماني ټولني او آمر سره التزام د نجات له مهمو لارو څخه گڼل کي ږي، دا التزام د مسلمانانو یووالی او نظم پیاوړی کوي او د تفرقې مخه نیسي، همدارنگه انسان د بېلابېلو فتنو، گمراه کوونکو افکارو او ناسمو لارو له اغېزو څخه ساتي او د حق پر لاره یې ثابت قدمه ساتي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک کي فرمائي: عَنْ حُذَیْفَةَ بْنَ الیَمَانِ یَقُولُ: کَانَ النَّاسُ یَسْأَلُونَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الخَیْرِ، وَکُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ مَخَافَةَ أَنْ یُدْرِکَنِي، فَقُلْتُ یَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا کُنَّا فِي جَاهِلِیَّةٍ وَشَرٍّ، فَجَاءَنَا اللَّهُ بِهَذَا الخَیْرِ، فَهَلْ بَعْدَ هَذَا الخَیْرِ مِنْ شَرٍّ؟ قَالَ: «نَعَمْ» قُلْتُ:

وَهَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الشَّرِّ مِنْ خَيْرٍ؟ قَالَ: «نَعَمْ، وَفِيهِ دَخَنٌ» قُلْتُ: وَمَا دَخَنُهُ؟ قَالَ: «قَوْمٌ يَهْدُونَ بِغَيْرِ هَدْيِي، تَعْرِفُ مِنْهُمْ وَتُنْكِرُ» قُلْتُ: فَهَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الخَيْرِ مِنْ شَرٍّ؟ قَالَ: «نَعَمْ، دُعَاةٌ إِلَى أَبْوَابِ جَهَنَّمَ، مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوهُ فِيهَا» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، صِفْهُمْ لَنَا؟ فَقَالَ: «هُمْ مِنْ جِلْدَتِنَا، وَيَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا» قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذَلِكَ؟ قَالَ: تَلْزَمُ جَمَاعَةَ المُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ، قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلاَ إِمَامٌ؟ قَالَ «فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الفِرَقَ كُلَّهَا، وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ بِأَصْلِ شَجَرَةٍ، حَتَّى يُدْرِكَكَ المَوْتُ وَأَنْتَ عَلَى ذَلِكَ(صحيح البخاري، ج۴، ص۱۹۹).

ژباړه: د حضرت حذیفه بن یمان رضي الله عنه څخه روایت دی چې وايي: خلکو به د الله تعالی له رسول صلی الله علیه وسلم څخه د خیر او نېکۍ په اړه پوښتني کولې، خو ما به د شر او بدۍ په اړه پوښتني کولې، ځکه بېرېدم چې هسې نه زه په اخته سم، ما ورته وویل: ای د الله رسوله! موږ د جاهلیت او بدمرغۍ په حالت کې وو، بیا الله تعالی موږ ته دا خیر (اسلام) راکړ، آیا له دې خیر وروسته به بیا شر هم راسي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو، ما ورته وویل آیا له هغه شر وروسته به بیا خیر راسي؟ ویې فرمایل هو، خو په هغه کې به څه ککړتیا (بد اعمال) وي، ما ورته وویل د هغه ککړتیا څه ده؟ علیه السلام و فرمایل داسي خلک به وي چې زما له طریقې پرته به لارښوونه کوي، ځیني کارونه به یې سم وګورې او ځیني به ناسم، ما ورته وویل آیا له هغه خیر وروسته به بیا شر راسي؟ علیه السلام وفرمایل، هو داسي بلونکي به وي چې د جهنم دروازو ته به خلک رابولي. څوک چې د هغوی بلنه ومني، هغوی به یې جهنم ته وغورځوي، ما ورته وویل: ای د الله رسوله هغوی موږ ته را وپېژنه، علیه السلام و فرمایل هغوی به زموږ د قوم څخه وي او زموږ په ژبه به خبري کوي، ما ورته وویل که زه هغه وخت ته ورسېدم نو څه امر راته کوې؟ نبي علیه السلام و فرمایل، د مسلمانانو له جماعت او د هغوی له امام (آمر) سره پاته سه، ما ورته وویل که هغوی جماعت او امام نه درلودی، نبي علیه السلام و فرمایل، له ټولو ډلو او فرقو څخه ځان ګوښه کړه، که څه هم د ونې ریښه په غاښونو ونیسې، تر دې چې مرګ درته راسي او ته پر همدې حالت پاته یې.

نبي کریم صلي الله علیه وسلم د مسلمانانو د جماعت او د هغوی د امام (آمر) د ملازمت او پیروۍ امر ځکه کړی چي په دې کې د ټولني عمومي مصلحت دی.

**مناقشه**

دا ښېرنه څرګندوي چي فتنه د قرآن کریم او نبوي سنتو له نظره یوه مهمه او هر اړخیزه موضوع ده چي د انسان د دین، عقیدې، اخلاقو او ټولنیز ژوند له بېلابېلو اړخونو سره تړاو لري، د ښېرني پایلو وښودله چي د فتنو اساسي عوامل د دیني علم کمښت، د نفس غوښتنو پیروي، د شیطان وسوسې، د دنیا سره زیات تړاو، د ګناهونو خپرېدل او د الهي لارښوونو څخه بې‌پروایي ده، همدارنګه ثابته سوه چي د فتنو د مخنیوي تر ټولو اغېزمني لاري د قرآن کریم او نبوي سنتو پیروي، د علم ترلاسه کول، تقوا، صبر، دعا، د صالحو خلکو ملګرتیا او د اسلامي امت یووالی دی.

د دې څېړنې پایلې له هغو پخوانیو او معاصرو څېړنو سره په عمومي ډول ورته والی لري چې د فتنو د مفهوم، اسبابو او د مخنیوي لارو په اړه ترسره سوې دي، ټولو څېړنو په دې ټینګار کړی چې د فتنو د علاج اساسي سرچینه قرآن کریم او نبوي سنت دي، خو د دې څېړنې ځانګړتیا دا ده چې د فتنو عوامل او د ساتنې لارې یې په یو ځای او منظم ډول د قرآن کریم د آیتونو، نبوي احادیثو، مفسرینو او محدثینو اقوالو په رڼا کې تحلیل کړې دي.

د دې څېړنې یو مهم امتیاز دا دی چې هڅه مې کړې ده تر څو د قرآن او نبوي سنتو له لارښوونو سره یې اړیکه روښانه کړم، په داسې حال کې چې ډېری ورته څېړنې تر ډېره حده د فتنې پر مفهوم او تاریخي بېلګو تمرکز کوي.

همدارنګه په دې څېړنه کې د فتنو د مخنیوي عملي تدابیر نسبتاً په پراخه توګه بیان سوي دي، تر څو لوستونکي وکولای سي د نظري معلوماتو تر څنګ له عملي لارښوونو څخه هم ګټه واخلي، له همدې امله دا څېړنه نه یوازې د فتنو د پېژندنې لپاره ګټوره ده بلکې د فرد او ټولنې د اصلاح او ساتنې لپاره هم عملي ارزښت لري.

په اخر کې ویلای سو چې د دې څېړنې پایلې د پخوانیو علمي آثارو تأیید کوي، خو د قرآن کریم او نبوي لارښوونو په رڼا کې د فتنو د عواملو او د ساتنې د لارو د جامع او تطبیقي بیان له امله ځانګړی علمي ارزښت او امتیاز لري.

**پایله**

د څېړنې په پای کې لاندې پایلې ته ورسیدم:

قرآن کریم او نبوي سنت د فتنو د پېژندلو، د هغوی د عواملو د درک کولو او له هغو څخه د ځان ساتلو لپاره بشپړې او هر اړخیزې لارښوونې وړاندې کوي چې د هر عصر او زمانې اړتیاوې پوره کوي.

د فتنو له مهمو عواملو څخه د شیطان پیروي، د الله تعالی له احکامو څخه سرغړونه، د ګناهونو خپرېدل، د دنیا او مال سره زیات تعلق، د جهاد او دیني مسؤلیتونو پرېښودل او د خبرونو په خپرولو کې بې احتیاطي دي.

څرګنده سوه چې د فتنو زیاتوالی د فرد او ټولنې پر دیني، اخلاقي او ټولنیز ژوند منفي اغېز کوي او د اختلاف، بې اتفاقۍ او فساد لامل ګرځي.

قرآن کریم نبوي احادیث مسلمانانو ته امر کوي چې د فتنو پر مهال په قرآن کریم او نبوي سنتو منګولې ټینګې کړي او د هر ډول فکري او عملي انحراف څخه ځانونه وساتي.

د فتنو د مخنیوي له مهمو لارو څخه پر الله تعالی توکل، د صبر اختیارول، د لمانځه پابندي، د الله تعالی په لار کې انفاق، او د حق پر لاره استقامت کول دي.

د ژبې ساتنه او د خبرونو په نقل او نشر کې تحقیق او تثبت کول د فتنو د مخنیوي له اغېزمنو وسایلو څخه دي.

نبوي لارښوونې د فتنو پر مهال د مسلمانانو د جماعت او آمر سره د التزام او یووالي سپارښتنه کوي، ځکه په دې کې د امت د وحدت او ثبات ساتنه نغښتې ده.
د فتنو په وخت کې د علم، بصیرت، تقوا او شرعي لارښوونو پیروي د نجات او بریالیتوب اساسي لاره ده.

## سپارښتنې

1. د قرآن کریم او نبوي سنتو د لارښوونو په رڼا کې دې د فتنو د پېژندنې او مخنیوي په اړه عامه پوهاوی زیات سي، ترڅو مسلمانان د فتنو له خطرونو څخه خبر او د هغوی پر وړاندې چمتو سي
2. تعلیمي او تربیوي بنسټونه دې د عقیدې، اخلاقو او اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا لپاره ځانګړې برنامې جوړې کړي، ترڅو ځوان نسل د معاصرو فتنو په وړاندې خوندي پاته سي.
3. مسلمانان باید د هر خبر او معلوماتو په منلو او خپرولو کې له تحقیق او تثبت څخه کار واخلي، ترڅو د شایعاتو او ناسمو معلوماتو له امله فتنې رامنځته نه سي.
4. د علماوو، دعوتګرو او د ټولنې د مشرانو مسؤلیت دی چې د فتنو د خطرونو په اړه خلکو ته دوامداره لارښوونې وکړي او هغوی د قرآن او سنتو پیروي ته وهڅوي.
5. د کورنیو په کچه باید د دیني او اخلاقي روزنې فضا پیاوړې سي، ځکه سالمه کورنۍ د فتنو پر وړاندې د فرد د ساتنې لومړنۍ بنسټ ګڼل کې ږي.

## اخځلیکونه

قرآن کریم
1) ابن بطال، أبو الحسن علي بن خلف. (1423 هـ). شرح صحيح البخاري لابن بطال. مكتبة الرشد - السعودية، الرياض
2) ابن حجر العسقلاني، أحمد بن علي. (1379هـ). فتح الباري شرح صحيح البخاري. دار المعرفة: بيروت
3) ابن رجب الحنبلي، عبد الرحمن بن أحمد. (1417 هـ ق)، فتح الباري شرح صحيح البخاري. دار ابن الجوزي: السعودية
4) ابن كثير، إسماعيل بن عمر. (1408 هـ ق). النهاية في الفتن والملاحم. دار الجيل، بيروت: لبنان.
5) ابن كثير، إسماعيل بن عمر. (1420 هـ ق). تفسير القرآن العظيم. دار طيبة: الرياض - السعودية
6) ابن منظور، محمد بن مكرم. (1414 هـ ق). لسان العرب. دار صادر: بيروت
7) أبو داود، سليمان بن الأشعث. (د.ت). سنن أبي داود. المكتبة العصرية: صيدا - بيروت
8) البخاري، محمد بن إسماعيل. (1422هـ ق). صحيح البخاري. دار ابن كثير: دمشق
9) البيضاوي، ناصر الدين أبو سعيد عبد الله بن عمر بن محمد. (1418 هـ). أنوار التنزيل وأسرار التأويل. الناشر: دار إحياء التراث العربي: بيروت

10) الترمذي، محمد بن عيسى. (1996 م). سنن الترمذي. دار الغرب الإسلامي: بيروت
11) الجرجاني، علي بن محمد الشريف. (1403هـ ق). التعريفات. دار الكتب العلمية: بيروت -لبنان
12) الخازن، علي بن محمد. (1415 هـ ق). لباب التأويل في معاني التنزيل. دار الكتب العلمية: بيروت
13) الرازي، محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي. (1420 هـ). التفسير الكبير. دار إحياء التراث العربي: بيروت
14) الزحيلي، وهبة بن مصطفى. (1418 هـ ق). التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج. دار الفكر: دمشق
15) الزمخشري، محمود بن عمر. (1407 هـ ق). الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل. دار الكتاب العربي: بيروت
16) السنيكي، زكريا بن محمد بن أحمد. (1426 هـ). منحة الباري بشرح صحيح البخاري. مكتبة الرشد للنشر والتوزيع، الرياض
17) السيوطي، جلال الدين عبد الرحمن. (1416 هـ ق). شرح السيوطي على صحيح مسلم. دار ابن عفان: المملكة العربية السعودية
18) شاهين لاشين، موسى. (1423 هـ ق). فتح المنعم شرح صحيح مسلم. دار الشروق
19) عثماني، شبير احمد. ( ۱۳۲۳ هـ ش). تفسير كابلی. مكتبة القاسمية: كوئته
20) العيني، بدر الدين محمود بن أحمد. (د.ت)، عمدة القاري شرح صحيح البخاري. دار إحياء التراث العربي: بيروت
21) العينى، أبو محمد محمود بن أحمد. (1420 هـ). شرح سنن أبي داود. مكتبة الرشد: الرياض
22) القرطبي، محمد بن أحمد الأنصاري. (1384 هـ). الجامع لأحكام القرآن. دار الكتب المصرية: القاهرة
23) القسطلاني، أحمد بن محمد. (1416 هـ). إرشاد الساري لشرح صحيح البخاري. دار الكتب العلمية: بيروت - لبنان
24) الكرماني، محمد بن يوسف. (1356هـ). الكواكب الدراري في شرح صحيح البخاري. دار إحياء التراث العربي، بيروت-لبنان
25) الكشميري، محمد أنور شاه. (1425 هـ). العرف الشذي شرح سنن الترمذي. دار التراث العربي: بيروت، لبنان
26) المناوي، محمد عبد الرؤوف. (1410هـ ق). التوقيف على مهمات التعاريف. عالم الكتب: القاهرة
27) النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف. (1392). المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج. دار إحياء التراث العربي : بيروت

28) النووي، محيي الدين يحيى بن شرف. (1428 هـ). الإيجاز في شرح سنن أبي داود السجستاني رحمه الله تعالى. الدار الأثرية، عمان: الأردن

29) النووي، يحيى بن شرف. (1414 هـ). الأذكار. دار الفكر: بيروت – لبنان

30) النيسابوري، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري. (1420 هـ). منة المنعم في شرح صحيح مسلم. دار السلام للنشر والتوزيع: الرياض

31) الهَرَري، محمد الأمين بن عبد الله. (1430 هـ). الكوكب الوهَّاج والرَّوض البَهَّاج في شرح صحيح مسلم بن الحجاج. دار المنهاج: دار طوق النجاة

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

| Volume:3 | Issue: 1 | Year:1405 |
|---|---|---|